معلمینو ته نصیحتونه

نصایح للمعلمین

په اخلاص، تقوی او مسلکي حاکمیت روزل شوی معلم

لیکوال: حمد الله شاکری

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا وَلِإِخۡوَٰنِنَا
ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلۡإِيمَٰنِ
وَلَا تَجۡعَلۡ فِي قُلُوبِنَا غِلّٗا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ
رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوفٞ رَّحِيمٌ ١٠﴾

معلمینو ته نصیحتونه

(په اخلاص ،تقوی او مسلکي حاکمیت روزل شوی معلم)

لیکوال: حمدالله "شاکري"

Download from: aghalibrary.com

سلام او مبارک احترامات

الحمد لله الذي علم بالقلم علم الإنسان ما لم يعلم. والصلاة والسلام على النبي الأكرم وعلى آله وصحبه ومن اهتدى بهديه إلى يوم الدين...

و بعد:

تحیه او سلام دې وي د الله تعالی د جانبه پر معلمینو باندې هغه چې د نسلونو روزنه کوي، خپل وخت، خپل بدن، خپل دماغ په کار اچوي او د زړه وینې خوري تر څو نوي نسلونه د جهالت څخه د علم لورې ته، د بې ادبی څخه د ادب لورې ته، فسق او فساد څخه د دین او تقوی لورې ته، د بغاوت څخه د رجوع لورې ته برابر کړي .

تحیه او سلام دې وي پر هغو معلمینو چې خپل احتیاجات یې پر خپله سینه کې پټ کړي او په همدې هدف پسې روان دي چې د مسلمانان اولادونه له جهل او ګمراهی څخه خلاص کړي د حق طرف ته یې متوجه کړي .

تحیه او سلام دې وي پر هغو معلمینو چې غم یې د خلکو د اولادونو، علمیت او تربیت وي، دا وکړه او دا مه کوه، څومره دې زده کړ او څه دې وکړل همدا یې غم او هدف وي . د الله تعالی له لورې پر تا باندې سلام او مبارک تحیات وي .

زده کړه او تدریس هغه رسالت او مسئولیت دی چې خلک د هغه په وسیله د ایمان او نور او معرفت طرف ته بلل کیږي او یقیناً چې په دې کار کې لوی اجر دی .

Download from: aghalibrary.com

معلمين كرام !

اسلامي امت نن د ډيرو سختو فتنو او امتحاناتو سره مخ دی، زمونږ کړېدلی ولس د کفارو د هر اړخيز نظامي، ديني او فرهنګي يرغل سره مخ دی. د دغو اسلام دوښمنو زياته توجه نوي نسل ته ده، دغه د اسلام سر سخته دوښمان غواړي چې نوی نسل ښکار کړي .

نن عصر کې د مسلمانانو لوی غفلت دا دی چې دعوت الی الله يې ترک کړی، فکري روزنه يې ترک کړې معاصرو بلاوو ته متوجه نه دي .

ولس او نوي نسلونه په بېلابېلو بڼو د اسلام دوښمنو له ښکار سره مخ دي لکه: شيطاني مډيا او خپرونې چې هر کور او حتې هر جيب ته يې مخ کړې، شيطاني فلمونه، سريالونه، موسيقي، د تلويزونو، راډيو او موبايل او آي فون لياري زهرجن تبليغات او داسې نور .

په داسې حالاتو کې معلم داسې دی لکه په صحراء کې يو شپون چې په رمه يې څو ليوان د حملې کولو تابيا لري نو دغه شپون ته څومره توجه او دقت پکار دی؟

د اسلامي امت معلم ! د مسلمانانو د نسلونو روزنکيه! ته نن په همداسې موقف کې ځای لرې ،اسلام دوښمنه ليوان دې تر رمه چاپيره تاو دي ... نور ته فکر وکړه چې څومره پام او فکر پکار دی .

د معلم د مسلکي تربيه او آدابو کتابونه شته، تاسې ته به ورکشاپونه جوړ شوې وي مګر دغه رساله د يو داعي معلم د روزنې لپاره تر تيب شوې هغه داعي او خير غوښتونکی معلم چې حتی ماهيانو پخپلو ځالو کې هغه ته د خير دعا کوي .

Download from: aghalibrary.com

رسول صلى الله عليه وسلم فرمايلي :«ان الله وملائكته وأهل السموات والأرضين حتى النملة في حجرها، وحتى الحوت ليصلون على معلم الناس الخير» (أخرجه الترمذي، ٥/ ٥٠) .

ژباړه:(يقيناً الله تعالى، د هغه ملائکې، د آسمانونو او ځمکو اهل او حتى په غارونو کې میږیان او حتى ماهيان په هغه باندې درود وايي چې خلکو ته په خير باندې لارښوونه کوي) .

فيض القدير ليکي: د الله د جانبه درود رحمت دی، د ملائکو د جانبه استغفار او بښنه ده او د نورو د جانبه دعا ده.

هغه مهم صفات چې باید په یو معلم کې موجود وي

اول – اخلاص:

داعي او خير غوښتونکي معلم ته ښايي چې د درس ورکولو دنده د الله تعالی د رضايت وسيله او خپل نيت خالص د الله تعالی لپاره ورګرځوي هغه که شرعي علوم وي، د عصري علومو تدريس وي نو نيت به يې دا وي چې دا علوم د نن عصر ضرورت دی او په دې علومو سره د اسلامي امت د عصري قضاياوو مشکل حليږي او د پرديو له احتياج څخه خلاصيږي او زده کوونکو ته نيکه اسلامي ترتبيه، په خير سره امر کول او له بدو څخه منع کول، نصيحت، اصلاح او تأديب کې يې باید نيت د الله تعالی رضا وي نه ريا او نه هم ځان ښودنه او نه په دې نيت چې خلک زما صفت وکړي . ځکه چې هر عمل په نيت پورې اړه لري .

جناب رسول صلی الله عليه وسلم فرمايلي :«إنما الأعمال بالنيات وإنما لكل امرئ ما نوى» (البخاري).

ژباړه: د ټولو عملونو قبلېدل په نيت پورې اړه لري، انسان ته د ده د نيت موافق ثواب او بدله ورکول کيږي.

د چا چې نيت خالص شو د خير کار لا څه چې مباح عمل عبادت حسابيږي او هغه ته ثواب ورکول کيږي .

أن المباحات إذا نوى بها الإنسان الثواب عند الله -جلَّ وعلَا- فإنها تدخل في ما يثاب عليه (شرح الأربعون النووية / دوكتور عبدالحكيم العجلان) .

یعنې:(کله چې په مباح کارونو کې د انسان نیت د الله جل وعلا د جانبه ثواب وي نو په هغه سره اجر او ثواب دی). څوک چې الله تعالی ته خوښ شو، الله تعالی د مخلوق په زړه کې د هغه محبت ور اچوي .

نو کله چې معلم خپل نیت خالص کړي نو دی به د الله تعالی په نزد صالح او مقبول بنده وي، او د خلکو او زده کوونکو په زړونو کې به د ده محبت وي .

د بخاري په حدیث شریف راغلي دي :«إذا أحبَّ الله العبد نادى جبريل إن الله يحب فلاناً فأحببه فيحبه جبريل فينادي جبريل في أهل السماء إن الله يحب فلانا فأحبوه فيحبه أهل السماء ثم يوضع له القبول في الأرض (البخاري :۳۲۰۹).

ژباړه:کله چې الله تعالی ته کوم بنده خوښ وي نو جبرئیل ته آواز کوي چې فلانی بنده الله ته خوښ دی ته هم هغه خوښ کړه نو جبرئیل هغه خوښ کړي او د آسمان اهل ته آواز وکړي چې فلانی بنده الله تعالی ته خوښ دی نو تاسې هم هغه خوښ کړئ (له هغه سره مینه وکړئ) نو د آسمان اهل هم هغه خپل دوست او خوښ جوړ کړي بیا په همدې توګه د ځمکې د اهل هم خوښ او مقبول شي .

دوهم – تقوی :

تقوی د هر مسلمان د پاره مهمه او همدا تقوی د مسلمانۍ اصلي مقصد دی، خو د یو تربیه کوونکي، داعي معلم لپاره تقوی زیات اهمیت لري، تقوی د شرعي اوامرو پر ځای کول او د منکراتو او حرامو څخه پرهیز کولو ته وایي .

الله سبحانه وتعالى فرمايي:[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا الله حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ] (آل عمران: 102). ژباړه:(ای مؤمنانو ! له الله څخه د هغه د شان په پرتله وډاریږئ او باید تر مرګه په اسلام ټینګ پاتې شئ).

رسول صلى الله عليه وسلم فرمايلي :«اتَّقِ اللهَ حَيْثُمَا كُنْتَ، وَأَتْبِعِ السَّيِّئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا، وَخَالِقِ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ » (رواه الترمذي- حديث حسن). ژباړه:(هر چېرې چې وې له الله تعالی څخه وېرېږه، د بدی وروسته نیکي کوه تر څو نیکي بدي له مینځه یوسي او د خلکو سره ښه سلوک کوه).

او هر چا چې تقوی اختیار کړه الله تعالی به هغه ته د دنیا او آخرت کارونه آسانه او د داسې طرف نه به زرق ورکوي چې د ده ګمان نه وي، لقوله سبحانه وتعالى: [وَمَنْ يَتَّقِ اللهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا * وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لا يَحْتَسِبُ] (الطلاق: ٢، ٣)

ژباړه:((او څوک چې د الله څخه ووېرېږي (الله) ور ته (د ستونزو څخه) د وتلو لار جوړوي، او هغه ته د داسې لارې نه رزق ورکوي چې (په خپله) ګمان نه کوي)).

کله چې معلم د تقوی په جوهر نه وي ښایسته شوی نو په خپلو اسلامي تعاملاتو او مناهجو کې به بې بندباره وي، په درس ورکولو کې به اخلاص نه لري، د زده کوونکو تر مینځ به عدل نه چلوي، په نمرو کې به واسطه بازۍ او فریب څخه کار اخلي .

د زده کوونکو د سالمې تربیې پر ځای به د هغوی د دیني، اخلاقي او ادبې تربیه د نقصان سبب ګرځي .

هغه معلم چې واسطې او پيسو په مقابل کې کوم زده کوونکي ته زياتې نمرې ورکوي يا کوم زده کوونکي ته نقل ورکوي، په پټه توګه ځوابونه ورکوي خاين دی او د څو پيسو په بدل کې خپل ديانت خرڅوي او آخر به د داسې بدنامۍ سره مخ شي چې بيا به ده ته د هميش لپاره تور داغ وي .

پس تقوی ديو معلم تربيه کوونکي او مربي لپاره د عزت او وقار ستر جوهر دی.

دريم: د مسئوليت ادا کول :

معلم د زده کوونکي د ټولو حالاتو د مراقبت او نظارت درس او تربيې په باب مسئول دی او ددې مسئوليت پوښتنه به ورڅخه کيږي .

جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي :«كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ » (رواه البخاري). ژباړه: ((هر يو د تاسې راعی (شپون) دی او هر يو د تاسې د خپل رعيت (لاس لاندې کسانو) په برخه کې مسئول دي.

راعي هغه ساتونکي ته وايي چې د خپلو ماتحتو ساتنه ور په غاړه وي لکه: اداره، صنف ،کورنۍ او نور او د ساتنې څخه دلته مطلب د عدل او مصالحو قيام دی)).

ابن عدي په صحيح روايت له انس رضی الله عنه څخه روايت کړی چې :

«إِنَّ اللَّه سَائِل كُلّ رَاعٍ عَمَّا اِسْتَرْعَاهُ حَفِظَ ذَلِكَ أَوْ ضَيَّعَهُ».

ژباړه: (يقيناً الله تعالی د هر شپونکي، هر مسئول نه د خپل مسئوليت په باره کې پوښتنه کوي چې د هغه ساتنه يې کړې او که يې هغه ضايع کړی دی).

نو پر معلم باندې واجبه ده چې خپل مسئوليت په ښه شان سرته ورسوي، کچېرې د معلم د بې توجهی او سستی په وسیله د زده کوونکو سلوک خراب شي د انحراف طرف ته لاړ شي نو دا به د معلم پر غاړه یو بار وي چې د داسې بار پورته کول به په یوم أکبر (قیامت) کې ډېر سخت وي .

نو همدا نن ورځ خپل بارونه سپک کړئ .

بس تاسې ته د نوي نسل د پالنې لوی امانت او رسالت سپارل شوی دی دغه امانت په داسې توګه تر سره کړئ چې الله تعالی در څخه راضي شي، او تل د خپلو نیمګړتیاوو په اړه دا فکر کوه چې زه څنګه کامیاب معلم شم تر څو په کامل ډول خپل مسئولیت ادا کړم .

څلورم – په نیکی امرکول اوله بدی څخه منع کول :

أمر بالمعروف او نهی عن المنکر د هر مؤمن نارینه او ښځې لپاره کلکه اسلامي فریضه ده او دا د مؤمنانو هغه صفت دی چې له منافقانو څخه یې جلا کوي .

لقوله سبحانه وتعالی: [وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ ..] (التوبه ۷۱). ژباړه:(او مؤمنان سړي او مؤمنانې ښځې ځینې د ځینو نورو دوستان دي امر کوي په نیکی او له بدلیو نه خلک منع کوي) .

[الْمُنَافِقُونَ وَالْمُنَافِقَاتُ بَعْضُهُم مِّن بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمُنكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوفِ...] (التوبه ۶۷) . ژباړه: (منافقان سړي او منافقانې ښځې ځینې له ځینو نورو نه ،هغوی د بدی په لور بلنه کوي او له نیکی څخه منع کوي) .

هيڅ مؤمن نجات نشي موندلای څو پورې چې دغه دنده تر سره نه کړي.

الله سبحانه وتعالى فرمايي: [وَالْعَصْرِ * إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ] (قسم دی په زمانه يقيناً ټول انسان په زيان او خسران کې دي) .

مګر يوازې هغه کسان کامياب دي چې څلور صفات ولري او دا څلور دورې ټولې پوره کړي .

[إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ] (العصر ١-٣).

ژباړه:(پرته له هغو کسان چې ايمان راوړی او نيک عملونه يې کړي وي او يو تر بله يې وصيت کړی وي په حق سره او وصيت يې کړی وي په صبر سره).

اول صفت:

هغه کسان کامياب دي چې ايمان يې راوړی او پخپل ايمان کلک ودريږي .

دوهم صفت:

صالح اعمال ترسره کړي چې د ريا او نفاق څخه پاک وي لکه لمونځ، زکات او نور ....

د عمل الصاحات په سر کې لمونځ قرار لري، کچېرې د بنده لمونځ صحي وو نور اعمال يې هم صحي دي او د قيامت په ورځ د لمانځه له مخې د نورو اعمالو تلل دي او که لمونځ خراب وو ټول دنيوي او آخروي مسئوليتونه او کارونه يې خراب دي، د لمانځه کمال په جومات کې په جماعت سره ادا کول او د ښځې لپاره پخپل کور کې په پخپل وخت لمونځ کول دي .

حضرت عمر فاروق رضی الله عنه خپلو امراء او واليانو ته وليکل: [إنَّ أهم أمركم عندي الصلاة فمن حفظها فقد حفظ دينه، ومن ضيّعها فهو لما سواها أضيع، ومن المحافظة عليها أداؤها جماعة فی المسجد، وفي] (ابن القيم الجوزية ص ۴۰۴.۴۰۳).

ژباړه: تر ټولو مهم د تاسې له أمورو څخه ماته لمونځ دی ،پس هر چا چې د هغه حفاظت وکړ هغې خپل دين وساتلو او چا چې هغه ضايع کړ هغه ته د نورو شيانو ضايع کول آسان دي او د هغه محافظت دا دی چې لمونځ په جمع په جومات کې ادا شي.

دريم صفت :

التواصي بالحق (په حق سره توصيه ده) ځکه چې دين نصيحت دی او ددې څخه أمر بالمعروف او نهی عن المنکر مراد دی تر څو سړی مصلح جوړ شي .

څلورم صفت :

التواصي بالصبر (په صبر باندې توصيه کول)، او صبر لاندې مراتب لري :

۱- په طاعاتو باندې صبر کول.

۲- په ګناهونو باندې صبر کول.

۳- د حق بيان او أمر بالمعروف او نهی عن المنکر (په نيکو کارونو امر کول او له بدو کارونو څخه منع کول) له مشکلاتو سره تړلی دي نو په دې مشکلاتو باندې صبر کول پکار دي ځکه چې دا لوی کار دی،د پيغمبرانو عليه السلام لاره ده سترې حوصلې او استقامت ته ضرورت لري .

۴- د الله تعالی په تقديراتو باندې راضي کيدل، په مشکلاتو او مصيبوتو باندې صبر کول ځکه چې دا امتحان دی .

پنځم - داعي معلم دې بيړه نه کوي:

د خپل دعوت، تعليم او کوښښ ثمرې او نتجې ته بيړه او عجله مه کوه، ته نن د کښونو په کرلو لګيا يې او د کرلو سره سم حاصلات مه غواړه .

ستا سره چې د زده کوونکو د نيکې تربيې او د علمي سويې د لوړوالي غم دی نو خپل کوښښ او خير طرف ته دعوت لړې لړې خبرې کمې مه ګڼه همدا وړې وړې خبرې د وړو ماشومانو په دماغ ځای نيسي .

رسول صلی الله عليه وسلم فرمايلي :«لَأَنْ يَهْدِيَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى يَدَيْكَ رَجُلا خَيْرٌ لَكَ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ وَغَرَبَتْ» (الطبراني:۹۲۵). ژباړه: که الله ستا د لاس څخه يو بنده ته هدايت وکړي ستا لپاره د ټولو کائيناتو نه چې پرې لمر راخيږي او پرېوزي غوره دی .

د يو ماشوم د لمانځه قيصه :

کتاب (نصائح للمعلمين مع بداية الدراسة) ليکي: يو وړوکی د دريم ټولګي ماشوم وو، د هغه يو معلم وو چې هر وخت به يې خپل زده کوونکي د الله تعالی اطاعت کولو ته تشويق کول د لمانځه د پابندۍ نصيحت به يې ورته کولو، بلاخره د معلم نصيحت په وړوکي ماشوم اثر کوي او ماشوم په جومات کې د سهار د لمانځه کلک عزم او اراده لري خو څوک به يې ويښ کړي، پلار، نه، مور ،نه، هغه کله ويښ او کله بيده په نا آرامۍ سره شپه سبا کوي تر څو د سهار

جماعت ورڅخه فوت نشي چې بلاخره د سهار آذان کيږي ماشوم د جومات په طرف يوازې په توره شپه او تياره سړک د جومات خواته ځي کله چې جومات ته رسيږي ګوري چې جومات قفل دی، دغه وخت ګوري چې په سړک يو ضعيف بډا کرار کرار چې په خپله همسا لاره معلوموي را روان دی دا بډا سړی د ده د ټولګيوال نيکه دی ماشوم په سپين ږيرې بوډا پسې د وروسته روان شو حال دا چې سپين ږيری ورباندې نه پوهيږي او جومات ته داخل شول لمونځ يې ادا کړ او په بوډا پسې د وروسته را روان شو او خپل کور ته راغی دروازه خلاصه وه ننولو او بيده شو او د کور هيڅ څوک ورباندې خبر نه شول .

ډيرې ورځې تيريږي بلاخره دا بوډا سړی وفات کيږي ماشوم چې کله د هغه له وفات خبريږي ژاړي، پلار يې ورته وايي ای احمد بچيه! ولې ژاړې هغه ستا هيڅ نه کيده، احمد خپل پلار ته قيصه بيانوي چې: زه تا د سهار لمانځه نه بيدارولم او زه د يوازېتوب له امله د دغه بوډا د لمانځه ملګری وم په هغه پسې به د وروسته روان وم خو هغه پر ما نه پوهيده، پلار يې د قيصې په اوريدو ډير وژړل پر خپل عمل خجالت او د خپل وړوکي ماشوم دغه صالح عمل ورباندې اثر وکړ او بلاخره پلار هم جومات ته د تللو کلک عزم وکړ او په دې سره يو نيکمرغه کورنۍ شوه، ددې سعادت سبب څوک وو؟، معلم

وګورئ د معلم ديني تربيت څومره اثر لري .

د پخوانیو علماوو قیصې :

ټولو ته څرګنده ده چې د بخاري کتاب د قرآنکريم وروسته د امت په اتفاق صحيح ترين کتاب دی او د دغه کتاب مصنف امام بخاري رحمه الله دی .

ابن حجر رحمه الله د فتح الباري په مقدمه کې د هغه د تألیف له دریو اسبابو څخه مشهور سبب دا لیکي چې: هغه د اسحاق بن راهويه په درسي حلقه کې ناست وو، اسحاق وويل: د تاسې څخه به څوک يو صحيح کتاب د رسول صلى الله عليه وسلم په سنتو کې ترتیب کړي، همدا وړه خبره وه چې ددې په وجه امام بخاري ته الله تعالى د دغه ستر کار توفيق ورکړ .

امام ذهبي رحمه الله چې د الجرح او تعديل شيخ او د هغه عصر پيژندل شوی عالم د علم حديث بنسټ ايښونکی وو د هغه د علم حديث د طلب او زده کړې وجه او سبب يوه وړه خبره وه، دی خپله وايي: چې زما خط امام البزرالي وليد او ما ته يې وويل: ستا خط د محدث په شان دی، نو د هغه وروسته زه د علم حديث زده کړې ته تشويق شم او دا کار مې پيل کړ

.

امام ابې حنيفه جليل القدر تابعي رحمه الله چې په تقوی او علم يې د امت اتفاق دی .

امام ابى حنيفه رحمه الله ته امام الشعبي رحمه الله نصحيت وکړ همغه وو چې علم فقه ته يې مخ کړه او لويه امام ورڅخه جوړ شو .

معلم صاحب! ته خپل کوښښ کوه او د الله لورې ته د خير دعوت کوه نور د خپل کړلي کښت ثمره الله تعالی ته سپاره .

شپږم علم :

مهم کار دا دی چې معلم پخپل مضمون حاکميت ولري او په درس ورکولو حاکميت ولري ځکه دا په ده باندې هغه امانت دی چې ادا کول يې واجب دي، او دا همغه کار دی چې دی يې په بدل کې له بيت المال څخه اجرت اخلي .

خو ددې امانت سره سره بايد د شرعي علم له زده کړې غافله نشي هغه علم چې پر نارينه او ښځه فرض دی، هغه علم چې د دنيا او آخرت سعادت دی ،کوم معلم چې شرعي علم ولري هغه د شرعي احکامو، اخلاقو او آدابو او تقوی پابند وي او داسې معلم زده کوونکو ته د تقدير او احترام وړ وي .

زده کوونکي د معلم هرې خبرې ته د قدر په سترګه ګوري، معلم چې کومه د خير خبره، اسلامي آدابو او اخلاقو خبره کوي د زده کوونکو په دماغ کې د کاڼې د ليکنې په څير ځای نيسي .

کله چې د ماشوم والدين کوم حرام او منکر کار تر سره کوي، ماشوم ورته وايي دا کار مه کوئ ځکه چې مونږ ته مو خپل معلم ويلي وو چې داسې کول حرام دي.

د علم شرعي څخه اصلي مطلب عمل دی داعي معلم بايد پخپله وينا عمل ولري .

الله سبحانه وتعالى فرمايي:[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آَمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لاَ تَفْعَلُونَ * كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللَّهِ أَن تَقُولُوا مَا لاَ تَفْعَلُونَ] (الصف :٢-٣). ژباړه: (اى مؤمنانو هغه څه ولی وایئ چې نه يې کوئ، د الله پر وړاندې دا ډيره د قهر او کينې خبره ده چې: هغه څه ووايئ چې کوئ يې نه).

رسول صلى الله عليه وسلم څخه دغه دعا روايت شوې :« اللهم إني أعوذ بك من علم لا ينفع» ژباړه: اى الله زه پر تا باندې پناه غواړم له هغه علم چې بې ګټې وي (د عمل او نورو ته رسولو پرته وي).

امام شافعي رحمه الله وايي: "ليس العلمُ ما حفظ، ولكنَّ العلم ما نفع"يعنې: (علم هغه نه دی کوم چې ياد شوی وي بلکي علم هغه دی چې نفع رسونکی وي) .

ماشومان موټرچلوونکی له ناروا کارڅخه منع کوي :

د تنکيو ماشومانو يو تونس موټر چې هره ورځ به يې زده کوونکي د أقرأ روضة الأطفال مدرسې په لورې نقلول، موټروال به چې کله موسيقي ساز او سرود ونيولو وړو ماشومانو به ورته ويل بند کړه د موسيقۍ اورېدل حرام دي .

کله به چې موټروان سګريټ له جيب څخه بيرون کړو وړو ماشومانو به ورته ويل مه څکوه مونږ ته مو استاذ ويلي دي چې د سګريټو څکول او د موسيقۍ اورېدل حرام دي .

بلاخره موټروال پر خپل عمل خجالت وباسي او د تنکيو ماشومان د نصيحت تر تأثير لاندې راځي او د ماشونو پر وړاندې د دا ډول عمل جرأت نشي کولای .

تنکي ماشومان خپل دعوت دوام ورکوي :

څه وخت تيرېږي د زده کوونکو انتقالونکی موټر بدلیږي بل موټروان راځي چې د پخواني موټروان په څیر له موسیقۍ اوریدو او سګریټ څکولو سره عادت دی، ماشومان هغه منع کوي خو دا ځل د ماشومان منع کول او د خیر دعوت په موټروان اثر نه کوي، بلاخره دا تنکي ماشومان خپل سر معلم ته شکایت کوي چې مونږ ستا د موټروان څخه په تنګ یو هغه موسیقي ږغوي او سګریټ څکوي او زمونږ خبره نه مني .

سر معلم د زده کوونکو د خبرې په اورېدو سره ټول موټروانان را وغوښتل او هغوی ته يې اعلان وکړ: سر له نن څخه چې هر چا په موټر کې موسیقي ونیوله او سګریټ يې وڅکول هغه به منفق وي.

دا ماشومان د لومړي ټولګي، دوهم او دريم ټولګي تنکې زده کوونکي وو .

د معلم اقوال او افعال د زده کوونکو لپاره نمونه ده

د معلم هره خبره او عمل د زده کوونکو لپاره نمونه ده او دوی په هغه پسې اقتداء کوي، نو معلم ته پکار ده چې خپلو اقوالو او افغالو ته متوجه شي او لاندې ټکې په نظر کې ونيسي .

۱- صدق او په وعده باندې وفاء کول :

صدق او رښتيا د معلم د سر تاج دی، معلم بايد پخپلو ټولو خبرو کې رښتيا ويونکی وي، له يو اړخه هره خبره که ښه وي او يا بده د بنده په اعمالو کې ليکل کيږي او له بله اړخه معلم دې دا فکر نه کوي چې زه هر څه وايم زده کوونکي نه ورباندې پوهيږي، داسې فکر کول بې ځايه دي، زده کوونکي ستا په هر خبره پوهيږي او که ستا درواغ ورته ثابت شي نو بيا ستا په رښتيا هم باور نه کوي .

صدق او رښتينولي د هر مسلمان جوهر دی او د جنت لاره ده .

رسول صلى الله عليه وسلم فرمايلي:«إن الصدق يهدي إلى البر وإن البر يهدي إلى الجنة وإن الرجل ليصدق حتى يكتب عند الله صديقاً وإن الكذب يهدي إلى الفجور وإن الفجور يهدي إلى النار وإن والرجل ليكذب حتى يكتب عند الله كذاباً» (رواه البخاري والمسلم). ژباړه: (يقيناً صداقت بنده د نيکۍ طرف ته بيايي او نيکي بنده د جنت طرف ته بيايي تر دې پورې چې رښتيا ويونکی سړی د الله په نزد صديق وليکل شي، او يقيناً چې درواغ سړی د بدو کارونو طرف ته بيايي او بد کارونه سړی د اور طرف ته بيايي تر دې پورې چې درواغ ويونکی سړی د الله په نزد درواجن وليکل شي).

او پر وعده باندې وفاء کول د مسلمان ستر صفت دی او وفاء نه کول د منافق صفت دی

.

[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ] (المائده). ژباړه: (ای مؤمنانو پر خپلو وعدو وفا کوئ).

په وعده وفا کول د مسلمان ستر صفت دی

[وَالَّذِينَ هُمْ لأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ] (المومنون ٨). ژباړه: (او هغه کسان (کامیاب شول) چې دوی د امانتونو او وعدو رعایت کوونکي دي).

د وعدې مخالفت کول د منافقت نښه ده، په حدیث شریف راغلي دي: عن أبي هريرة، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «آية المنافق ثلاث: إذا حدث كذب، وإذا وعد أخلف، وإذا اؤتمن خان» (البخاري).

ژباړه: (له ابوهريرة نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: د منافق درې نښې دي: چې کله خبرې کوي دروغ وایي، کله چې وعده وکړي په هغه وفا نه کوي او که امانت ور ته ورسپارل شي په هغه کې خیانت کوي).

٢- تواضع:

همدارنګه معلم ته په کار ده چې پخپل ځان کې تواضع راولي او نورو زده کوونکو ته د هغه تعلیم ورکړي .

نبی صلی الله علیه وسلم فرمایلي:«ومن تواضع لله رفعه الله» (شرح مسلم ١٦/١٤١).

ژباړه: چا چې د الله د پاره تواضع وکړه الله تعالی به یې اوچت کړي .

پوهان وايي: کبر هغه زينه ده چې له آخري پوړ څخه سړی پر ځمکه غورځوي .

۳- صبر:

د تدريس او درس ورکولو مهنت د تکليف سره تړلی دی کله معلم له ځينو زده کوونکو څخه بدې خبرې اورې او د هغوی بد حرکات ويني نو هغوی ته دې د ځان فکر نه کوي او دا فکر دې هم نه کوي چې هغوی به تول اصلاح وي بلکې په صبر او حوصله د هغوی د اصلاح لپاره هڅې کول پکار دي، زمونږ لپاره ستره نمونه معلم الناس محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم دی .

«عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضى الله عنه قَالَ: كُنْتُ أَمْشِي مَعَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم وَعَلَيْهِ بُرْدٌ نَجْرَانِيٌّ غَلِيظُ الْحَاشِيَةِ، فَأَدْرَكَهُ أَعْرَابِيٌّ، فَجَذَبَهُ جَذْبَةً شَدِيدَةً حَتَّى نَظَرْتُ إِلَى صَفْحَةِ عَاتِقِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَدْ أَثَّرَتْ بِهِ حَاشِيَةُ الرِّدَاءِ مِنْ شِدَّةِ جَذْبَتِهِ، ثُمَّ قَالَ: مُرْ لِي مِنْ مَالِ اللَّهِ الَّذِي عِنْدَكَ، فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ فَضَحِكَ، ثُمَّ أَمَرَ لَهُ بِعَطَاءٍ» (بخارى:۳۱۴۹).

ژباړه : (انس بن مالک رضی الله عنه وايي: د نبی صلی الله عليه وسلم سره تللم، او هغه يو نجراني چادر چې پنډې څنډې يې لرلې اغوستی وو، يو اعرابي آنحضرت صلی الله عليه وسلم را ورسيد او چادر يې په سختی ورڅخه کش کړ داسې چې ما د نبی اکرم صلی الله عليه وسلم ورميز ته وکتل نو د چادر د سخت کش کولو اثر مې پکې وليد، بيا هغه کس وويل: امر وکړه چې د الله تعالی د مال څخه چې ستا په اختيار کې دی ما ته هم څه راکړي، رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه ته وکتل او تبسم يې وکړ او امر يې وکړ تر څو هغه ته هم څه ورکړي) .

د صبر ثمره ډير ښه وي، په داسې حالاتو کې معلم لره بې صبرۍ او ښنځل کول پکار نه دي .

۴- مهرباني او نرمي :

معلم ته پکار ده چې د خپلو زده کوونکو سره مهربانه او نرمه رويه او سلوک وکړي د هغوی زړونه کمزوري دي د سختی توان نلري ډيره سختي او بد سلوک د معلم او درس څخه د زړه توروالی سبب ګرځي .

معلم به په لومړي قدم کې د زده کوونکو په زړه کې خپله مينه، محبت او مهرباني ځای کړي کله چې د زده کوونکو په زړه کې د معلم محبت ځای پر ځای شي بيا په هغوی باندې فشار او تأديب کوم اثر نلري .

الله سبحانه وتعالی د خپل رسول صلی الله عليه وسلم په اړه فرمايي :

[فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لاَنفَضُّواْ مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللّهِ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ] (آل عمران :۱۵۹) . ژباړه: (د الله مهرباني وه چې ته مسلمانانو ته نرم شوې. که ته بد خويه او سخت زړی وای نو دوی به ستا له چاپيره څخه خواره واره او تيت پرک شوی وای نو عفوه ورته وکړه، بښنه ورته وغواړه او په کار کې ورسره مشوره وکړه او کله دې چې هوډ وکړ نو پر الله پاک توکل وکړه) .

معاذ بن جبل رضی الله عنه وايي: چې يو ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم زه تر لاس ونیولم او ويې ويل: «یا معاذ إني لاحبك »ای معاذه ! یقیناً په ما باندې ګران يي. معاذ وويل: ای پیغمبر صلی الله علیه و سلم پلار او مور مې له تا قربان شي، ته هم په ما باندې ګران يي . ويې فرمایل :«أوصیك یا معاذ، لا تدعن في دبر کل صلاة أن تقول: اللهم أعني على ذکرك وشکرك وحسن عبادتك»

ژباړه: (تا ته وصیت کوم چې دا دعا د هر لمانځه نه وروسته ترک نه کړې: ای الله جل جلا له ! زما سره کومک وکړه تر څو زه د تا په ذکر او یاد کې ووسم او ستا شکر ادا کړم او ستا سم عبادت وکړم) (ابوداود ۱۵۲۲تحقیق ریاض الصالحین با اسناد صحیح ۱۸۳) .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:«مَن يُحرِمُ الرِّفقَ يُحرَمِ الخَيرَ كُلَّه» (رواه مسلم) .

ژباړه: چا کښې چه نرم خويي نه وه هغه د هر قسمه خير او نیکی نه محروم او بې برخې دی .

۵- عدل او مساوات :

د الله تعالی د جانبه د ټولو پیغمبرانو او آسماني کتابونو د نزول يو هدف په ځمکه کې د حق او عدل قايمول وو :

لقوله تعالی: [لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ] (الحدید ۲۵) ژباړه: (یقیناً چې مونږ خپل پیغمبران له خپلو روښانه او څرګندو هداياتو سره ولیږل او له هغوی سره مو کتاب او تله نازل کړی ؤ تر څو پرخلکو کې عدل قايم شي) .

معلم ته ښايي چې په سلوک، زده کړه، نمرو ورکولو او د تعليم په ټولو چارو کې د زده کوونکو تر مينځ د عدل قيام وکړي .

د خپلوۍ او ملګرۍ، خان او ملک تر تأثير لاندې رانشي تر څو صلب عدالت شي او همدارنګه د چا سره د تربګينت او عداوت له مخې د کوم زده کونکي حق پايمال نکړي .

لقوله سبحانه تعلى: [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ وَلا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلَّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا ...] [المائدة:8]. ژباړ: (اى مؤمنانو ! شى قايم د الله تعالى د پاره ګواهي ورکونکي په انصاف او د کوم قوم د دوښمنۍ په وجه انصاف مه پرېږدی عدل کوئ) .

د عدل قيام عبادت دى چې ستر فضيلت لري او بې عدالتي ظلم دى چې په قيامت کې د تيارو سبب ګرځي .

جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي :«إِنَّ المُقسِطينَ عِنْدَ اللَّهِ عَلى مَنابِرَ مِنْ نور: الَّذِينَ يعْدِلُونَ في حُكْمِهِمْ وأَهلِيهِمْ وما وُلُّوا » (رواهُ مسلم).

ژباړه: (مقسطين (عادل خلک) به د الله تعالى په نزد د نور پر منبرونو قرار لري، هغه کسان چې (په ور سپارل شوي) حکم او مسئوليت کې او د خپل اهل او ولايت کې د عدالت رعايت کوي) .

۶- حلم او حوصله او له غصې څخه پرهيز:

بې ځايه او ډېر قهر او غصه کېدل ځينې وخت د سخت خطر سبب ګرځي لکه: دوښمني، عداوت او حتی د خولې څخه د کفر د الفاظو د وتلو سبب ګرځي . د قهر او عصې څخه پرهيز او د هغه کابو کول د متقيانو صفت دی، د دنيا او آخرت خير دی.

الله سبحانه وتعالی فرمايي: [الَّذِينَ يُنفِقُونَ فِي السَّرَّاء وَالضَّرَّاء وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ] (آل عمران 134). ژباړه: (پرهيزکاران هغه کسان دي چې په خوښۍ او نا خوښۍ دواړو حالاتو کې مالونه خيراتوي، قهر زغمونکي او خلکو ته عفوه کوونکي وي او الله پاک نيکي کوونکي خوښوي).

جناب رسول صلی الله عليه وسلم ته يو کس راغی چې ما ته نصيحت وکړه، جناب درې ځله هغه ته په تينګار سره وويل چې :« لاَ تَغْضَبْ» (غصه مه کوه) .

همدارنګه فرمايي: :«لا تغضب ولك الجنة »(رواه صحيح الجامع و الطبراني).

ژباړه: (غصه مه کوه تا لره به جنت وي) .

پس معلم ته ښايي چې د معصومو ماشومانو سره نيک او مهربانه سلوک وکړي.

مګر د معلم د پاره په هيڅ صورت کې دومره نرمي کول نه دي پکار چې د صنف نظام اخلال شي، د معلم حق او عزت ته صمدمه ورسيږي او په صنف کې داسې کډوډي را مينځته شي چې حالات د څو بې بندباره چې نه غواړي درس زده کړي په ګټه تمام شي .

معلم ته شرعاً د تأديب حق شته داسې تأديب چې نيت يې اصلاح وي نه بل څه. تأديب د زده کوونکي په حالت پورې اړه لري چې ځينې يوازې په کتلو اصلاح کيږي او ځينې په خبره اصلاح کيږي او ځينې بدني تأديب غواړي او بدني تأديب به د اسلامي شريعت په چوکات کې وي .

٧- که د ځان احترام غواړې د بل احترام کوه :

معلم بايد د خپلو زده کوونکو احترام وکړي تر څو هغوی د ده احترام وکړي، زده کوونکو ته بايد بد او ناوړه الفاظ و نه کارول شي لکه: ټمبله، غبي، جاهله، خره او نور ځکه د بدو او ناوړو الفاظ کارول حرام دي .

لقوله سبحانه وتعالى: [وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ ..] (الحجرات ١١) ژباړه: (او يو بل په بدو لقبو مه بولئ) .

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :«من حق المؤمن علي المؤمن أن يسميه بأحب أسمائه إليه ...») (تفسير انوارالقرآن سورة الحجرات) ژباړه: (يو له حق د مسلمان پر بل مسلمان دا دی چې هغه په داسې نوم وبولي چې هغه د ده د پاره ډير خوښ وي) .

د ناوړه الفاظو کارول لکه: ټمبل، جاهل، ناپوهه او نور د زده کوونکي په دماغ او علمي سويه سخت بد اثر لري .

همدارنګه معلم ته د ښځنلو څخه کلک پرهيز پکار دی ځکه داسې کول ګناه ده او کله دا کار د عداوت او دوښمنۍ سبب ګرځي، معلم زده کوونکي ته ښنځل کوي، زده کوونکي خپل والدين ورباندې خبروي چې په دې سره د دوښمني او حسد سبب جوړيږي .

او کله بيا د عکس العمل سبب کيږي، د پوهنتون يو استاذ قيصه کوله چې زمونږ په پوهنځۍ کې يو بد کلامه استاذ وو هغه يو ورځ يو محصل ته وويل: ای اولاد خر، نو محصل په ځواب کې ورته وويل: خير است شما پدر معنوی من استي.

د خپل مضمون لیارې د زده کوونکو په ذهن کې د اسلامي اساسات ځایول

د کیمیا او فزیک معلم:

په ځمکه کې ټول شیان الله تعالی د انسان د استفادې لپاره پیدا کړي دي .

الله سبحانه وتعالی فرمايي:[أَلَمْ تَرَوْا أَنَّ اللَّهَ سَخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَأَسْبَغَ عَلَيْكُمْ نِعَمَهُ ظَاهِرَةً وَبَاطِنَةً ..] (لقمان : ٢٠).

ژباړه:آیا نه وینې چې الله تعالی د آسمانانو او ځمکې ټول شیان تاسې ته تابع کړي او خپل ښکاره او پټ نعمتونه یې ټول پر تاسې تمام کړي دي .

د کیمیا او فریک معلم ته پکار ده چې زده کوونکو ته د ماده پرستو دهرینو کوم چې په ماده عقیده لري مردوده عقیده په کله رد کړي او ورته بیان کړي چې :ټول کارونه د الله تعالی په اراده تر سره کیږي ځکه هر کار چې د هر سبب له مخې تر سره کیږي د هغه سبب هم د الله تعالی په واک او اختیار کې دی ځکه د هغه (جل جلاله) مخلوق دی.

د وریځې د حرکت سبب باد دی، باد د الله تعالی په اراده او امر چلیږي، د وریځو سبب وریځ ده وریځ د الله تعالی په حکم چلیږي، د ځمکې د شنه کیدو د پاره سبب باران دی، باران د الله تعالی په حکم اوریږي.

نن پر مختللی ټنالوجي د الله تعالی په اراده کې شامله ده ځکه ددې ټنالوجۍ کشف او اختراع د انسان په وسیله تر سره شوي ده، او الله تعالی انسان ته ددې ټنالوجي د کشف او اختراع توان ورکړی دی ځکه د هغه په دماغ کې یې په میلیونو حجرات ځای پر ځای کړي چې

په هغه کې دا توان شته او دغه حجرات، عصبي سيستم، او د وينې دوران او د زړه او دماغ فعاليت ټول د الله تعالی مخلوق دی او د هغه په امر چليږي.

د موجوده ټنالوجۍ لپاره ټول اسباب الله سبحانه وتعالی اماده او تيار کړي دي

دا چې د اوبو پر سطحه سترې بېړۍ حرکت کوي او نه ډوبيږي د اوبو پاسنۍ سطحې ته يې د ماليکولونو د جمع کيدو خاصيت ورکړی دی، دا خاصليت الله تعالی ورکړی دی.

دا چې الوتکي پر فضا کې ګرځي، فضا له هوا او غازي ماليکولو ډله ده، دا خاصليت الله تعالی ورکړی دی، کوم چې غازاتو ته يې د ماليکولونو د تښتې او فرار خاصيت ورکړی دی.

دا چې نن د مخابراتي سيستم لويه تنالوجي وجود لري دا د هوا د ماليکولونو د حرکت له وجې مينځته راغلی ده، هوا او د هغه واړه زرات او ماليکولونه د هغه سبحانه وتعالی په امر چليږي ځکه چې دا يې ټول مخلوق دی .

«سبحان الله و بحمده سبحانه الله العظيم»

د بيولوژي معلم:

علم احياء (بيولوژې) هغه علم دی چې د ژونديو ښخه بحث کوي، د دغه مضمون معلم ته په کار ده چې زده کوونکو ته دا بيان کړي چې الله تعالی په ښومره ښه شان سره خپل مخلوق پيدا کړی دی، په غوره شان او هيئت سره يې انسان پيدا کړی او په ځمکه کې يې اکثره ساه لرونکي د انسان مدد ګار او خدمت ګار ګرځولي دي.

د کرهنې په ځمکه کې سره چينجي هر چا ته معلوم دي د کرهنې او زراعت پوهان په دې باندې پوهيږي چې په يوه هکتار ځمکه کې په زرګونو چينجې د بزګر سره د مدد د پاره اخته دي او دغه پټ لشکر (چينجي) ځمکه نرموي او د ځمکو لاندو طبقو ته نايټروجن، نور معدني مواد، هوا او اوبه رسوي.که دغه پټ لښکر خپل کار پريږدي نو زمونږ ټوله خارې به عبث وي.

همداسې د شاتو په مچيو کې د الله تعالی د قدرت حيرانوونکې نښې پرتې دي :

الله سبحانه وتعالی فرمايي: [وَأَوْحَى رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ أَنِ اتَّخِذِي مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ، ثُمَّ كُلِي مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ فَاسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلاً..] (النحل :۶۷-۶۸). ژباړه: (او ستا رب د شاتو د مچې په زړه کې ور واچوله چې په غرونو، ونو او هغو لوړو او دنګو ځايونو کې ځانونو ته ځالې جوړې کړئ، بيا هر ډول ميوې وخورئ او په هغو لیارو والوزئ چې خپل رب درته آسانه کړې دي) .

د پورته آيت شريف څخه دا څرګنديږي چې مچې د شاتو په توليد نه پوهېدې ،الله تعالی هغوی ته الهام وکړ او د ژوند او فعاليت ترتيب او تنظيم يې ور وښودلو، دا واضح حقيقت دی چې د شاتو مچې يو عجيب منظم ژوند لري.

او الله تعالی مچيو ته د الهام په ذريغه لارښوونه وکړ چې په غرونو او ونو کې خپلې ځالې جوړې کړي او همداسې يې مچيو ته د الوتلو لارښوونه کړې ده .

مچی د ګلانو د شیرې ټولو لپاره کلو متره مصافه طی کوي ولی لاره نه ورځخه ورک کیږي بیرته خپلې ځالی ته راځي.

د شاتو مچی له پاکو ګلانو څخه شیره ټولوي او هیڅ ناپاک شی نه خوري او بلاخره ددې څخه شات جوړیږي.

د الله سبحانه وتعالی دغه پاک، ظریف او منظم لښکر د چا لپاره کار کوي؟

د شاتو مچی د کیلو متره فاصلو څخه د ګلانو شیره ټولوي او یا یې د کیلو متره فاصلو څخه په خپلو وزرونو کې خپلې ځالی ته انتقالوي تر څو شات تولید کړي او دغه خدمت او د شاتو تولید د چا لپاره دی؟

دا پاک، ظریف او منظم لښکر د انسان لپاره خدمت کوي، پس وګوره ! ای انسانه د ځمکې او آسمان مخلوق ستا لپاره تسخیر او ستا خدمت کوي پس ته د څه لپاره پیدا شوی یې او څه مسئولیت لرې؟

که تاسې د الله په قدرت کې په غور فکر او څیړنې وکړئ نو حیران به شئ او له سترګو به مو اوښکې وبهیږي بیا به د خپل رب (جل جلا له) په مینه کې ډیر وژاړئ.

عرض دا چې هر څه د الله (جل جلا له) په قبضه او قدرت کې دي نو انسان به د خپل رب (جل جلا له) د حدودو پابندي کوي ځکه چې دا هر څه د امتحان د پاره دي:

لقوله سبحانه وتعالى: [إِنَّا جَعَلْنَا مَا عَلَى الأَرْضِ زِينَةً لَّهَا لِنَبْلُوَهُمْ أَيُّهُمْ أَحْسَنُ عَمَلاً] (سوره الكهف: ۷) ژباړه: (څه چې په ځمکه کې دي بې شکه مونږ د هغه لپاره ښايست ګرځولى دى، څو دوى وازمايو چې کوم يو د دوى په عمل کې ډير غوره دى).

د جغرافيه معلم :

د جعرافيه معلم ته پکار ده چې د جهان د خلقت په باره کې د ځينو فلاسفه وو غلطې څرګندونې رد کړي او زده کوونکو ته د ځمکې او نورو سيارو، او په ځمکه باندې روان سيندونه او په هغه باندې ميخ شوي غرونو او ټولو موجوده شيانو کې د الله تعالى د قدرت نښې بيان کړي .

هغه الله سبحانه وتعالى چې سترو سيارو ته حرکت ورکوي، شپه په ورځ او ورځ پر شپه باندې بدلوي .

قرآنکريم سوونه کاله مخکې خبر ورکوي چې الله سبحانه وتعالى پخپل قدرت سره لمر، ځمکې او سپوږمۍ ته د دوران او حرکت توان ورکړى دى او دغه سترې کرې د خپل ستر څښتن (جل جلاله) په حکم منظم ګردش کوي.

لقوله سبحانه وتعالى :[وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ] (الأنبياء:۳۳). ژباړه: او الله هغه ذات دى چې شپه ورځ، لمر او سپوږمۍ يې پيدا کړي. هر يو پخپل مدار کې لامبو وهي.

مګر بشر په شپږم قرن کې دا مسئله کشف کړه.

همدارنګه قرآنکریم سوونه کاله مخکې د بحر له تلې څخه خبر ورکوي .

او الله سبحانه وتعالی فرمايي: [وَهُوَ الَّذِي مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هَذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهَذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَحِجْرًا مَحْجُورًا] (الفرقان ٥٣). ژباړه: (او الله همغه ذات دی چې دوه دريابونه يې سره يو ځای کړي دا يو ډير خوږ او تنده ماتوونکی، او دا بل ښه تريو مالګين دی او بيا يې د دواړو په مينځ کې پرده پيدا کړې ښه منع کړ شوې).

قرآنکريم څوارلس سوه کاله مخکې د دوو لويو بحرونو د جلاوالی او د هغوی په مينځ کې د پردې خبر ورکوي چې ددې کار تحليل د بشري تصور له مخې مشکل دی ځکه چې دا جلاوالی په سترګو نه معلوميږي او د انسان عقل ته به دا ډيره عجيبه وي چې څنګه يو ځای روانې اوبه او مايعات د کوم اصلي ديوال پرته جلا شي.

مګر الله سبحانه وتعالی دغه بحرونه په خپل قدرت سره داسې جلا کړي چې تر مينځ يې پرده ده چې يو پر بل نه ورکډيږي، د علمي څيړنو له مخې حتی د يو بحر ماهی هغه بل طرف نشي ورتلای ځکه چې په بل طرف کې ژوند نشي کولای ځکه چې د اوبو خاصيت فرق لري.

قرآن کريم د بحر د تلې څخه خبر په داسې يو عصر او زمان کې ورکوي چې هغه وخت د کشف او مشاهدې هيڅ وسائل نه وو، چې دا د قرآن اعجاز دی او د قرآن منکرينو ته ستر پيغام دی چې دا کتاب د رب العالمين لخوا نازل شوی چې د خپل مخلوق د هرې برخې او حالت څخه خبر او عالم دی.

مګر بشر د ١٨ قرن په آخر کې د بحرنو د جلاوالی مسئله کشف کړه.

او بلاخره به د قیامت په ورځ د خپل څښتن (جل جلاله) په لورې ور ټولیږو :

[إِن كُلُّ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ إِلاَّ آتِي الرَّحْمَنِ عَبْدًا * لَقَدْ أَحْصَاهُمْ وَعَدَّهُمْ عَدًّا * وَكُلُّهُمْ آتِيهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَرْدًا] (سوره مریم :۹۳-۹۵).

ژباړه: (څه چې په ځمکو او آسمانونو کې دي ټول به مهربان الله د بنده ګانو په توګه را وړاندې شي. ټول یې معلوم کړې او له مخې یې ګڼلي دي. او ټول به یو یو د هغه مخې ته وړاندې شي) .

د تاریخ معلم :

د تاریخ معلم ته پکار ده چې زده کوونکو ته د سیرت نبی صلی الله علیه وسلم، سیرت صحابه رضی الله عنهم، اسلامي تاریخ، اسلامي فتوحاتو په اړه معلومات ورکړي دا چې د خلفاء راشدین رضی الله عنهم په وخت کې عراق، ایران، افغانستان، چین او د پاکستان ځینې برخې د اسلامي امت د کوم فاتح جنرال لخوا فتحه شوې او د هند لویه وچه څه وخت د افغانانو په لاس فتحه شوه او همدارنګه د عبرت لپاره د اسلامي امت د تاریخي صالحو اشخاصو یادونه او د هغوی قیصې بیانول .

د تربیه فني یا ترسیم معلم :

د رسم معلم ته ښایي چې خپلو زده کوونکو ته د ساه لرونکو لکه: انسان، حیوان، مرغه د ترسیم ،تصویر او مجسمې د حرمت معلومات ورکړي او دوی ته دا واضح کړي چې د ساه لرونکي رسم او تصویر اخیستل په شرعي نصوصو حرام او په اړه یې سخت وعیدونه بیان شوي دي .

د ساه لرونکو پرته د نورو شیانو لکه: د انسان په لاس جوړ شوي شیان، نباتات، ونې،ځمکه، غرونه، سیندونو او نورو تصویرونه ایستل باک نلري جایز دي .

د ژبې معلم (عربي، دري او پښتو) :

د ژب پوهنې معلم ته ښایي چې په کورنیو کارونو، تمرینونو او پوښتنه او محاوره کې کټور دیني او دنیوي شیان ځای پر ځای کړي او په ځینې کتابونو کې چې کوم عبثیات ځای پر ځای شوې دي د هغوی د ضرر په اړه وضاحت ورکړي .

مثلاً: د اسلام څو بناوې دي؟، د سهار لمونځ څو رکعته دی؟، د نوروز لمانځل په اسلام کې حرام دي، د موسیقۍ اورېدل حرام دي .

د انسان لپاره وخت او زمانه زیات اهمیت لري باید وخت په عبثو شیانو تیر نه کړي .

او همداسې د منحرفو اشعارو او سندرو نه د زده کوونکو منع کول او داسې نور ....

د صنف او درسي نظام د سمون لپاره څوټکې

۱- د درس ورکولو لپاره پوره پوره اماده ګۍ نيول .

۲- صنف ته د داخلېدو پر مهال سلام اچول او د درس په پيل کې «بسم الله الرحمن الرحيم» ويل .

۳- څو پورې چې صنف منظم شوی نه وي او ټول زده کوونکي متوجه شوي نه وي درس مه پيل کوه .

۴- کله چې صنف ته داخل شوې قهر او غصه مه کوه او په ورين تندې ودرېږه تر څو زده کوونکي مطمئن شي چې ته په ښه حالت کې يې او صنف ته له ننوتلو سره سم مه کېنه. داسې ځای ودرېږه چې ټول دې ووينې او بيا خپلو ټولو زده کوونکو ته نظر وکړه .

۵- د زده کوونکو حاضرې واخله تر څو دوی خپل وخت او حاضری ته متوجه شي .

۶- د درس په زده کولو او کورني کار کې زده کوونکي فرق لري ځينې يوازې اشارې او خبرې ته غوږ نيسي او عمل کوي، ځينې ترغيب ته اړتيا لري او ځينې بيا تأديب ته اړتيا لري، نو ټولو زده کوونکو ته يو شان فکر کول پکار نه دي .

۷- زده کوونکو ته بايد د امکان تر حده پورې درس آسانه شي او د درسي مضمون څخه علاوه ساده او آسانه مثلانونه ورته بيان شي تر څو دوی ژر ورباندې پوه شي او په دماغ يې فشار او زور ورنشي .

۸- په درس ورکولو کې باید د داسې الفاظو، عباراتو او لغاتو ویلو څخه ډه ډه وشي چې د زده کوونکو له عقل او سوېې څخه لوړ وي .

زده کوونکي باید د دوی د عقلونو او علمي سوېې په قدر مخاطب شي .

۹- معلم باید خپل درسي نظام ته متوجه وي، د درس ویلو، تکرار، سوالونو لپاره وخت وویشي او همدارنګه د ټول فصل درس پر ورځو وویشي چې پخپل وخت داسې خلاص شي چې نه درسي نظام نیمګړی شي او نه هم پر زده کوونکو فشار ورشي .

۱۰- معلم ته پکار ده چې د زده کوونکو تر مینځ د محبت فضاء را مینځته کړي د ځینې زده کوونکو کورنۍ تربیه سمه نه وي د نورو زده کوونکو سره جنجال کوي چې په دې سره د زده کوونکو د دماغي ناآرامۍ سبب ګرځي .

۱۱- د سوال کوونکي سوال ته په حوصله ځواب ورکول .

۱۲- په تخته باندې د لیکلو پر مهال په یوه مناسبه زاویه دریدل تر څو صنف دې تر نظر لاندې وي .

۱۳- معلم د زده کوونکو سره په سلوک کولو کې باید عادل وي د لوی او وړوکي، غني او فقیر، سپین او تور، پاک او ناپاک فرق ونه کړي، ځکه چې د زده کوونکو سره په عدل تعامل هغوی ته د نږدې والي بنسټ دی تر څو د ځینې زده کوونکو د حسد او عداوت سبب نشي .

۱۴- د صنف د نظم د پاره د صنف د مشر زده کوونکي څخه کار اخیستل، د ځینې زده کوونکو ځای ته تغیر ورکول، په خبره مخاطب کول او یا تأدیب ورکول تر څو د نورو مزایم جوړ نشي.

۱۵- د درس زده کولو لپاره کورنی کار خاص اهمیت لري ځکه چې په کورني کار کولو سره د زده کوونکي دماغ عملاً په فعالیت راځي، دا په هغه صورت چې کله د معلم لخوا هر وخت کنټرول او چک شي او هغوی خپلو نیمګړتیاوو ته متوجه شي .

د مدرسې او مکتب سرمعلم

ای د مدرسې او مکتب مدیر! ته د مدرسې او مکتب قائد او مشر یې او تا ته لوی مسئولیت متوجه دی او تا ته داسې امانت متوجه دی چې په دنیا او آخرت کې د هغه په اړه پوښتنه تر څخه کیږي .

ته د معلمینو، زده کوونکو، د زده کوونکو د والدینو، د مکتب د تعمیر او وسائلو او تعلمي نظام او حتی د مکتب تر چوکیدار پورې د ټولو اړخونو مسئول یې .

نو تاته د څوټکو یادونه کوم ان شاء الله چې ګټور به درته تمام شي

۱- د معلمینو تر مینځ ټول مسئولیتونه اهلیت ته په کتلو سره عادلانه وویشه .

۲- هیڅکله د زده کوونکو په مخ کې معلم مه سپکوه او هغه ته د زده کوونکو پر وړاندې نصیحت مه کوه او د زده کوونکو پر وړاندې د هغه نیمګړتیا وې مه بیانوه.

۳- په درسي نظام او سمون کې له معلمینو سره مشوره کوه .

۴- د مکتب تعمير او سامان په بيت المال پورې اړه لري د هغه ساتنه کول واجب دي .

۵- د صنفونو د شروع څخه مخکې د زده کوونکو پيل درول خاص اهميت لري ځکه په لږ وخت کې يوه د خير خبره تر ټولو پورې رسيږي او دغه وخت مهمو مسائلو لکه: د زده کوونکو ديني او اخلاقي ترتبې ته ورکول او په هغه کې د زده کوونکو برخه اخيستل مهم اهميت لري .

۶- معلمين او زده کوونکي د دين مهمو احکامو ته متوجه کول لکه: د اوه کلنۍ نه تر نه کلنۍ پورې ماشومان بايد ټول قرآنکريم په تجويد سره پوره زده وي، طهارت او لمونځ يې پوره زده وي او په همدې سن کې عملاً په لمانځه ودرول شي. او همدانګه هغوی ته د دين نور مهم احکام، مسونه دعاګانې، اذکار ور زده کړ شي .

۷- د معلمينو او زده کوونکو لپاره د اوداسه او لمانځه د ادا کولو ځای برابرول .

۸- د لنډغرو او بدمعاشانو پر وړاندې مبارزه، کچېرې په مکتب کې کوم لنډغر او بدمعاش کس يا ډله موجوده وي په فوري شکل يې بايد مخه ونيول شي او د مخنوي په اړه د مسئولو کسانو سره خبره شريک شي ځکه چې دا لنډغر له يوې خوا د نورو زده کوونکو د فکري او دماغي اخلال او نا آرامۍ سبب ګرځي او له بلې خوا همدا لنډغر سبا ورځ د کلي، سيمې او دين لپاره لوی درد سر جوړيږي نو علاج يې همدا اوس پکار دی .

۹- کچېرې تا ته کوم زده کوونکی د شکایت لپاره راشي هغه مه رټه د هغه خبرې ته پوره غوږ

شه د شکایت په اړه تحقیق وکړه کچېرې یې شکایت پر ځای وو، حق یې ورکړه او که نه

قناعت ورکړه.

۱۰- کچېرې تا ته د معلم څخه زده کوونکي شکایت کوي ته د هغه په اړه پوره تحقیق وکړه

ځکه ځینې وخت هغه کسان چې خپله درس نه زده کوي خپل مسئولیت پر معلم ور اچوي

.

۱۱- که معلم تاته د زده کوونکو څخه شکایت وکړي د هغه په اړه تحقیق وکړه او د معلم

سره په نظم کې پوره مرسته وکړه .

۱۲- په هیڅ صورت کې د کوم معلم تخریب مه کوه، ځکه معلمینو ستا د مکتب درسي نظام

روان کړی او ستا سره یې لوی مسولیت پورته کړی دی، د هغې تخریب داسې دی لکه خپل

لاس دې چې پرې کوې . که هغوی ته نصحیت کول غواړې نو مخامخ یې ورته وکړه .

۱۳- د معلمینو د فعالیت، سستی او غفلت څخه باید پوره خبر ووسې .

۱۴- زده کوونکي د شیطاني مډیا (فلم، تصویر، موسیقی) او نورو نا وړه اعمالو څخه کلک

منع کول او د هغوی کلک څارل. د هغوی درسي نظام، د زده کړې طریقه او د زده کوونکو

علمي سویه باید پوره وڅارې .

۱۵- د امتحاناتو پوره خارنه او معلمینو ته په عدل باندې تینګار کول، د نقل او فریب پر وړاندې سخته مبارزه کول ځکه چې نقل د زده کوونکو ملا ماتوي، څوک چې په نقل کولو عادت شو هغه ته بیا د درس زده کول خوند نه ورکوي .

والدین کرام :

دغه رساله اصلاً د معلم لپاره ترتیب شوې خو په مختصر ډول د زده کوونکو والدین کرام ته په دوو ټکو نصیحت کیږي :

۱- د خپل اولاد دیني ، تربیتي او علمي خارنه ، د والدینو کرامو باید دې ټکې ته پوره پام وي چې اولادونه مو که له (۴-۶) ساعته له معلم سره وي خو پاتې عمر یې ستاسې تر خارنې لاندې تیریږي ، کله داسې هم وشي چې په مکتب کې د خلکو په بچیانو ډیره خواري وشي خو د خپلو والدینو د غفلت له لاسه هغه هر څه برباد شي .

د خپلو اهل او اولاد دیني او اخلاقي ترتبیه ته پام او خارنه کول د کور د مشر او سرپرست او د هغه په غیابت کې د مور مسئولیت دی ، خپل اولاد باید پوره وخاري چې هغه چېرې ګرځي ، د چا سره ګرځي ؟ څه کوي ؟ آیا درس وایي ؟ کورنۍ کار تر سره کوي ؟ په اوه کلنۍ کې لمونځ کولای شي ؟ په لس کلنۍ کې لمونځ کوي او که نه ؟ جومات ته د دیني درس لپاره ځي او که نه ؟ لمونځ په جومات سره ادا کوي او که نه ؟ او داسې نور .

والدين كرام !

نن څو ورځې له خپل اولاد سره تکلیف او زحمت تیر کړئ ، هغوی له بدو کارونو څخه په کلکه منع او ښو کارونو ته یې تشویق کړئ ، جومات ته یې د قرآن او د دین د زده کړې د پاره ولیږئ، اسلامي تربیه ور وښیئ ، د اطاعات په حصه کې یې کلک وڅارئ ، کوڅه کشتۍ ، د فاسدو خلکو له ملګرۍ ، د فلمونو ، سریالونو څخه یې وژغرئ ، د څو ورځو د تکلیف په وجه به ټول عمر آرامه سرلوړي او په دنیا او آخرت کې ور باندې خوشحاله او افتخار کوونکي وئ .

او که نن ورځ غفلت او سستي وکړئ چې زما د سر څخه چپ وي ، زه آرام وم ، ولو که په کوڅو کې ګرځي ، ولو که ګیم وکړي ولو که سریال او فلم ته کینې ولو که جومات ته نه ځي ولو که د دین څخه بالکل ناخبره وي خو چې زما د سر نه چپ وي او مونږ آرامه وو او مونږ ته شور او غالمغال ونه کړي ، نو پوه شه چې دا د څو ورځو غفلت او سستي به مو ټول عمر غم وګرځي .

۲- ضروري شرعي علم په نارینه او ښځو دواړو فرض دی ، ډیر والدین د خپلو لورګانو او خویندو دیني علم او تربیت ته هیڅ توجه نه کوي .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: « طلب العلم فريضة على كلّ مسلمٍ » یعنې: د علم طلب په هر مسلمان (نر او ښځه) فرض دی.

د پورته حديث څخه د شريعت ضروري علم مراد دی لکه: عقائد، د طهارت،لمانځه، روژې، زکات او حج احکامو،اسلامي حجاب،ضروري معاملات، آداب او د ګناهونو او حرامو پېژندل او داسې نور.

الموسوعة الفقهية ليکي:

په پلرونو او ميندو لازمه ده چې خپل اولاد (هلکانو او نجونو) ته د شريعت ضروري احکام ور زده کړي لکه:طهارت، لمونځ، روژه او نور او همدارنګه د حرامو شيانو زده کړه لکه: د زنا، لواطت، غلا، شراب، غيبت، بهتان او نور زده کړه وربانديې واجبه ده.

جاء فى الموسوعة الفقهية:

على الآباء والأمّهات تعليم أولادهم الصّغار الطّهارة والصّلاة والصّوم ونحوها، وتعليمهم تحريم الزّنى واللّواط والسّرقة، وشرب المسكر والكذب والغيبة وشبهها، وأنّهم بالبلوغ يدخلون في التّكليف.

جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

« من كانت له بنت فأدّبها فأحسن أدبها، وعلّمها فأحسن تعليمها، وأسبغ عليها من نعم الله الّتي أسبغ عليه كانت له ستراً أو حجاباً من النّار »

ژباړه: چا لره چې يوه لور وي پس هغه ته نيک تربيه او نيک تعليم ورکړي او د الله (جل جلاله) د ورکړيو نعمتونو څخه هغې ته څه ورکړي، نو ده لره به مانع او پرده شي له دوزخ څخه.

دا چې د نجونو او ښځو لپاره د زده کړې ځنګه باستره او با پردې د نارينه څخه کاملاً جلا ځای برابر شي د مسلمانانو په مسئولينو او علماوو پورې اړه لري ، ځکه چې د هلکان او نجونو اخلاط او کېدون حرام دی.

وجاء في فتاوى اللجنة الدائمة (١٢/١٥٦):

"أولا: الاختلاط بين الرجال والنساء في المدارس أو غيرها من المنكرات العظيمة، والمفاسد الكبيرة في الدين والدنيا، فلا يجوز للمرأة أن تدرس أو تعمل في مكان مختلط بالرجال والنساء، ولا يجوز لوليها أن يأذن لها بذلك.

(اول دا چې: په مدارسو او مكاتبو او نورو ځايونو كې د سړيو او ښځو تر مينځ اختلاط ستر ګناه او د دنيا او آخرت عظيم فساد دی، ښځې ته جايز نه ده چې د سړيو او ښځو په مختلط ځای كې تعليم زده كړي او د ښځې سرپرست ته جايزه نه ده چې هغې ته اجازه وركړي.

و ما توفيقي الا بالله عليه توكلت و اليه انيب

مأخذ

1. نصائح للمعلمين مع بداية الدراسة/ شيخ محمد صالح المنجد
2. نصائح وتوجيهات للمعلمين والمعلمات/ شيخ ابو عبدالله الذهبي
3. نداء إلى المربين والمربيات، لتوجيه البنين والبنات / شيخ محمد جميل زينو
4. المدرس ومهارات التوجيه، للشيخ محمد بن عبد الله الدويش
5. د ماشومانو روزنه / آن لاين اسلامي لارښود ويب پاڼه

حمدالله "شاكري" غفره ولوالديه

طالب العلم الأكاديمية الأسلامية المفتوحة